مجله علمی سلام

Salam Academic Journal

*Journal Homepage:* https://www.resaearch.salam.edu.af

سال هشتم، دور دوم، شماره ۴، خزان سال ۱۴۰۲هـ ش

# د افغانستان د نوي کیدونکي انرژۍ سرچینې: ننګونې، د پالیسۍ چوکاټ، او سپارښتنې

عزت الله زهیر[1]

ORCID: https://orcid.org/0009-0007-1854-1947

دکتور عبدالله صادق[2]

ISSN: 3078-9575 (Print)    ISSN: 3078-9583 (Online)

تاریخ نشر: ۱۴۰۲/۱۲/۲۰    تعداد صفحات: ۱۴    از صفحه ۷ تا ۱۹

**لنډیز**

افغانستان، چې یو مخ پر ودې هېواد دی، په پام کې لري چې تر ۲۰۳۲ کال پورې د خپلې برېښنا ۱۰ سلنه د تجدید وړ سرچینو څخه تولید کړي، تر څو په وارداتي برېښنا انحصار، د کلیو د بریښنا د تشې او د چاپېریال د خرابوالي په څېر ننګونو باندې بریالي شي.

دا لنډه څېړنه د ثانوي معلوماتو راټولولو د میتود په کارولو سره د بالقوه امکاناتو ، اوسني ظرفیت او راتلونکي پلانونو په شمول د افغانستان د نوي کیدونکي انرژۍ منظرې پراخه بیاکتنه وړاندې کوي. د اوبو، لمر، باد او بایوماس په برخه کې د نوي کیدونکي انرژۍ د پراخ ظرفیت سره سره، په دې اړه په هېواد کې ننګونې لکه ناڅرګنده پالیسۍ، محدود متخصص کدرونه، امنیتي خطرونه، او د عامه شکیلتیا په مخ کې خنډونه شتون لري.

د دې خنډونو د له منځه وړلو لپاره، د نوي کیدونکي انرژۍ اړوند د روښانه ملي پالیسي درلودل، د اداري ظرفیت لوړول، او عامه - خصوصي مشارکت ته وده ورکول مهم دي. په دغو ننګونو باندې بریالي کیدل کولی شي له افغانستان سره د نوي کیدونکي انرژۍ د اهدافو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي، پداسې حال کې چې د سولې رامینځته کېدل، د دولت جوړونې هڅې، او د اقلیم د بدلون د خطرونو د راکمولو هڅې هم په دې کار کې ګټور واقع کېدلی شي.

**کلیدي کلمې: افغانستان، ظرفیت لوړول، د تجدید وړ انرژي، انرژۍ ته لاس رسی، بریښنا، د انرژۍ پالیسي.**

[1]. د سلام پوهنتون د اقتصاد پوهنځی استاد، +93 77 775 8234، Azatutllahzaheer28@gmail.com

[2]. د سلام پوهنتون د اقتصاد پوهنځی استاد، +93 78 796 5750، Abdullah.sadiq88@gmail.com